


ابادي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

گڼـــه:۴۵ | مسلسل نمبر: ۱۳۵

پنجشنبه، رمضان المبارک ۲مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د افغانســـتان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانگونې شرکت ترمنځ د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چـــارو د پیل تړونونه لاسلیک شول




۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي گروپ شرکتونو له عمومي رییس میرویس عزیزي سره وکتل



۲مه صفحه

## د کابل – بگرام سړک د جوړېدو چارې پیل شوې



۳مه صفحه




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانســـتان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانگونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېگاواټه په ظرفیت د لمریزې او له ډبرو ســـکرو څخه د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونه لاســـلیک شول. په یادو پروژو شـــاوخوا ۴۶۳ میلیون ډالر پانگونه کېږي، چې د لمریزې برېښـــنا پروژې به په دوه کلونو او د ډبرو ســـکرو پروژې به په درېیو کلونو کې بشپړې شي. انرژي په ځانگړي ډول برېښـــنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکټور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکټور په یوه نه یو ډول انرژۍ ته اړتیا لري. له ساینسي انکشافاتو وړاندې د انرژۍ اړتیاوې له څارویو، انسانانو او هوا څخه پوره کېدې، خو کله چې ساینس پرمختگ وکړ؛ نو ځای یې د انرژۍ د تولید نویو توکو لکه اوبو، د ډبرو سکرو، تیلو، گازو او داسې نورو ونیو. که موږ غواړو انرژي تولید او د انرژۍ د تولید له سرچینو گټـــه پورته کـــړو، اړ یوو چې له یـــوه لوري له پرمختللې ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه گټه پورته کړو او لـــه بل لوري په دې برخه کې کورنۍ او بهرنۍ پانگونه جلب او جذب کړو. تر هغې چې موږ په کافي اندازه برېښنا ونه لرو، نه شو کولای صنعت او دې ته ورته نور سکټورونه د پرمختگ په لور بوځو. د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعـــت تر ټولو مهم دی، د نـــړۍ هغه هېوادونه چې له جگړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختگ یې کړی دی، اساسي لامل یې د صنعت پرمختگ دی. افغانستان د صنعت په برخه کې هغسې چې اړتیا ده پرمختگ نه دی کړی خو د اسلامي امارت په راتگ سره په دې برخه کې هڅې گړندی شـــوې دي تر څو په هېواد کې د صنعتي پرمختگ لپاره هر ډول شرایط او زمینه برابر شي، چې تر ټولو مهم یې برېښنا ده. د برېښنا همدې اهمیت ته په کتو اسلامي امارت په افغانستان کې د برېښنا د شته سرچینو څخه د برېښنا تولید ته مخه کړې ده. د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانگونې شرکت ترمنځ د لمریزې او ډبرو ســـکرو څخه د برېښنا د تولید د پنځو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونو لاسلیک یې ښه بېلگه ده. که څه هم دا د عزیزي گروپ د هغه لس زره میگاواټه برېښنا د تولید لومړي گامونه دي، خو امتیاز یې ځکه اسلامي امارت ته ورکول کیږي، چې د اسلامي امارت په راتگ سره له یوه لوري په هېواد کې سرتاسري امنیت ټینگ شوی چې دا د پانگونې او په هېواد کې د سترو پروژو د پیل له پاره زمینه برابروي او له بل لوري کورنیو او بهرنیو پانگوالو ته د نورو برخو ترڅنگ د برېښنا د تولید په برخه کې پراخ فرصتونه برابر او ډېرې اسانتیاوې ورته رامنځته شوې. په هېواد کې د اړتیا وړ برېښـــنا په تولید سره به زمـــوږ صنعت، کرنه، سوداگري، روغتیا او دې ته ورته نور ټول سکټورونه ورځ تر بلې پرمختگ وکړي او د زیربنایي سکټورونو په ځانگړي ډول د صنعت په ودې سره به د هېواد اقتصادي وده چټکه او په ډېر لنډ وخت کې به افغانستان په اقتصادي لحاظ یو خپلواک او پر خپلو پښو ولاړ هېواد واوسي.

## د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګوني شرکت ترمنځ د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۲مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګوني شرکت ترمنځ د ۸۴۵ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. د دې تړونونو له مخې به د عزيزي انرژۍ پانګوني شرکت د کابل ولايت په نغلو سيمه کې ۱۰۰ ميګاواټه لمريزه برېښنا، د پروان ولايت په باريک اب سيمه کې ۱۰۰ ميګاواټه لمريزه برېښنا، په غزني ولايت کې ۱۳۰ ميګاواټه لمريزه برېښنا او همدارنګه په تخار ولايت کې ۱۶۵ ميګاواټه او په بغلان ولايت کې ۳۵۰ ميګاواټه د ډبرو سکرو برېښنا توليد کړي.

په يادو پروژو شاوخوا ۴۶۳ ميليون ډالر پانګونه کېږي، چې د لمريزي برېښنا پروژې به په دوه کلونو او د ډبرو سکرو پروژې به په درېيو کلونو کې بشپړې شي.




## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزيزي ګروپ شرکتونو له عمومي رييس ميرويس عزيزي سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د عزيزي ګروپ شرکتونو له عمومي رييس ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د عزيزي انرژۍ پانګوني شرکت له لوري د لس زره ميګاواټه پروژې اړوند د ۸۴۵ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل هرکلی وکړ او دا يې په هېواد کې د کاري فرصتونو د ايجاد او اقتصادي ودې د پرمختګ په برخه کې مهمې وبللې. ښاغلي ميرويس عزيزي د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال او د اړوندو ادارو له مسوولينو مننه وکړه، چې په ټولو برخو کې يې ورسره پوره همکاري کړې ده او له هېڅ ستونزې سره نه دي مخ شوي. هغه وويل، دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او دا دی نن د مخلصو مسوولينو د هڅو په پايله کې د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. عزيزي زياته کړه، د روان کال تر پايه به د برېښنا توليد له ۱۵ تر ۲۰ نورې پروژې هم پيل کړي، چې مجموعي ظرفيت به يې پنځه زره ميګاواټه ته ورسېږي.



د عزيزي ګروپ شرکتونو عمومي رييس خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې کارونه په ښه ډول مخ ته روان دي، چې هرات ولايت ته د ګازو په را رسېدو سره به له کانونو او پټروليم وزارت سره په همغږۍ د ګازو لويې شبکې او له ګازو څخه د برېښنا توليد د ۳۰۰۰ ميګاواټه په ظرفيت د لويې فابريکې د جوړېدو کارونه پيل کړي. هغه همدارنګه د طبيعي ګازو او ډبرو سکرو د اکتشاف، استخراج او له هغه څخه د برېښنا توليد په برخه کې له اړوندو ادارو سره د ګډ کار کولو غوښتنه وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال او اړوندو ادارو مسوولينو په يادو برخو کې د پوره همکارۍ او ګډ کار اطمينان ورکړ.

# د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۳مه نېټه د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل – بګرام سړک د کابل ښار له مهمو نښلوونکو لارو څخه وباله او ویې ویل، چې دا سړک کابل ښار له پروان او نورو شمالي ولایتونو سره نښلوي. هغه زیاته کړه، دا سړک د نوي کابل ښار له اساسي ترانسپورتي زېربناوو څخه دی، چې د ښاري پراختیا، ټولنیزو فعالیتونو او اقتصادي اړخه مهم بلل کېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، له بدمرغه افغانستان په تېر کې په ډېرو سیاسي احزابو، قومي، سمتي او ژبنیو اجزاوو ویشل شوی و، چې د ملي مشترکاتو د پیاوړي کولو په برخه کې یې لوی اکثریت له لاسه ورکړی و. د هغه په خبره، اسلامي امارت د دې ستونزو د حل لپاره جدي هڅه کوي څو دا ټول بې مفهومه تقسیمات له منځه یوسي او افغانان په داسې اسلامي او واحد ملي دریځ کې راټول کړي، چې د افغانستان سترې ګټې پکې خوندي وي. هغه وویل، په دې برخه کې یو بنسټیز کار تر شپږم صنف پورې د مدرسې او مکتب د نصاب توحید دی چې اسلامي امارت وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو هېوادوالو غږ وکړ، چې د نورو له ړاند تقلید څخه لاسي واخلي، د هغوی تر اغېز لاندې رانشي او واقعیتونه غلط تفسیر نه کړي. د هغه په خبره، افغانستان د افغانانو کور دی او هرڅوک دلته په ارامه ژوند کولی شي، خپل هېواد ته راتللی او دلته پانګونه کولی شي. هغه وویل: «موږ نه د چا مخه نیولې ده او نه د اسلامي امارت ظرفیت دومره کوچنی دی چې هره فردي او جزوي مسئله جدي ونیسي.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمې او نړۍ پر هېوادونو غږ وکړ، چې له افغانستان سره مثبت تعامل د اوسني وخت اړتیا ده او د سیمه‌ییز او نړیوال اتصال د پیاوړي کولو او مشترکو پراختیایي اهدافو د تعقیب مهم رکن دی. د هغه په خبره، له دې حقیقت څخه سترګې پټول د مشترکو اساسي موخو تعقیب او ترلاسه کول کمزوري کوي او شته بالقوه فرصتونه په لوی لاس ضایع کوي. ټول هېوادونه د خپل جغرافیوي موقعیت، هوایي حریم، کاري قوې، خامو موادو او صادراتو او وارداتو له اړخه یو بل ته اړ دي او دا اړتیاوې هغه وخت په سمه توګه پوره کېدلی شي، چې د نړۍ هېوادونه د رسمي اړیکو په چوکاټ کې د تعامل جرأت وکړي، چې دا کار د ټولو په ګټه دی.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یوځل بیا له هېوادونو وغوښتل، چې هر څوک باید د افغانستان له سرتاسري امنیت، اقتصاد محوره سیاست، د نورو هېوادونو په چارو کې د نه لاسوهنې، د سیاسي او اقتصادي تعامل پیاوړي ارادې او نورو ورته فرصتونو څخه لازمه ګټه واخلي او هڅه ونه کړي چې رامنځته شوي فرصتونه په تهدیدونو بدل شي. د کابل – بګرام سړک ۶,۲ کیلومتره اوږدوالی او شاوخوا ۵۰ متره سور لري چې ۴۵۵ میلیون افغانۍ لګښت پرې راځي او مالي تمویل یې د اسلامي امارت له لوري کېږي.



# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د هرات ولایت په اسلام کلا بندر کې د تخلیې او بارګیرۍ طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. په اسلام کلا بندر کې د تخلیې او بارګیرۍ مرکز په جوړېدو سره به سوداګرو ته د صادراتي او وارداتي توکو په برخه کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي.

له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې موضوع او په دې اړه د وړاندې شوې طرحې هراړخیزه څېړنه ترسره او خپل راپور د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبار اقتصادی هفته

## امضای پنج تفاهم‌نامه تجاری با داغستان به ارزش ۱,۵ میلیون دالر

اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان از برگزاری یک نشست شبکه‌سازی تجاری میان تاجران افغان و هیات تجاری جمهوری داغستان، از جمهوری‌های فدراسیون روسیه، خبر می‌دهد. به‌گفته‌ی مسؤلان این اتاق، در جریان این نشست، پنج تفاهم‌نامه‌ی تجاری به ارزش بیش از ۱,۵میلیون دالر در بخش‌های ترانسپورت و مواد غذایی میان دو طرف به امضا رسیده است. اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری گفت: «طی بحث‌های طولانی و مثمر در نتیجه‌ی امضای پنج قرارداد، دربخش‌های مختلف از جمله انواع گونه‌گونی مواد غذایی ازجمله مانند برنج و روغن بوده و بلاخره یک سفر و نشست مفید بود.» در همین حال معاون بین‌الملل و بازرگانی وزارت نفت ایران، با رییس اجرایی شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان، دیدار و دو طرف درباره‌ی ضرورت توسعه‌ی همکاری‌های بلندمدت در بخش نفت و گاز، تبادل تجربه‌ها و ایجاد زمینه‌های عملی برای سرمایه‌گذاری مشترک گفت‌وگو کرده است. قطب‌الدین یعقوبی، آگاه اقتصادی دراین‌باره گفت: «دید و بازدیدهای که دراین راستا انجام می‌شود می‌تواند از تکنالوژی‌ها و تجربه های نوین که ایران، درقسمت استخراج نفت دارد، درافغانستان مفید واقع شود.» این در حالی‌ست که پیش از این نیز، مقام‌ها و سازمان‌های اقتصادی افغانستان و کشورهای منطقه، بارها بر اهمیت تقویت روابط اقتصادی، افزایش تعاملات تجاری و استفاده از ظرفیت‌های مشترک منطقه‌ای برای بهبود وضعیت اقتصادی پافشاری کرده‌اند.

## گشایش سومین نمایش‌گاه صنعت ساختمان، عمران و بازسازی افغانستان

سومین نمایش‌گاه و همایش جهانی صنعت ساختمان، عمران و بازسازی افغانستان در کابل با حضور مقام‌های امارت‌اسلامی‌افغانستان گشایش یافت. در این همایش، وزیر صنعت و تجارت، گفت که افغانستان در برخی بخش‌ها از جمله تولید آهن و شماری از مواد ساختمانی به خودبسندگی نزدیک شده و گام‌های اساسی در عرصه ی بازسازی و ساختمان برداشته شده است. به‌گفته‌ی او، صنعتی‌سازی کشور در اولویت سیاست‌های امارت اسلامی قرار دارد و برای تشویق سرمایه‌گذاران، سهولت ها و امتیازات ویژه‌ای در نظر گرفته شده است. نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت امارت اسلامی افغانستان در این باره گفت: «اگر کشوری با ما می‌خواهد تجارت و تعامل داشته باشد تمام برنامه‌های امارت اسلامی در اختیار شان است، ما بارها از کشورهای همسایه به شمول پاکستان دعوت کردیم که بیایند در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند تعامل کنند، نزدیکی داشته باشند، برادری داشته باشند، راه‌ها و مسیرها را بند نکنند.» اتاق زراعت و مال‌داری، در این باره افزود: «به وطن تان، نیروی کارتان افتخار کنید، به صنعت و حکومت تان نیز افتخار کنید.» در همین حال، مسؤلان برگزارکننده پافشاری کردند که هدف از برگزاری این روی‌داد، توسعه ی صنعت ساختمان و ایجاد هماهنگی و پیوند بیش‌تر میان شرکت‌هاست. آنان افزودند که از کشورهای هند، ازبکستان، ترکمنستان و ایران نیز برای اشتراک در این نمایش‌گاه دعوت شده است. شکرالله بقایی، برگزارکننده ی نمایش‌گاه، افزود: «هدف ما این است که نمایش‌گاه بعدی ما وسیع‌تر، بیش‌تر و بهتر از این نمایش‌گاه باشد تا بتوانیم برای کشور جذب سرمایه گذاری کنیم.» شماری از غرفه‌داران نیز با خرسندی از برگزاری این‌گونه روی‌دادها، چنین نمایش‌گاه‌هایی را گامی مثبت برای رشد صنعت داخلی کشور دانستند.

## داد و ستد ۹۷ میلیون دالری کابل و توکیو در سال پار میلادی

سفیر جاپان در افغانستان به طلوع‌نیوز می‌گوید که با آن‌که جاپان در افغانستان سرمایه‌گذاری انجام نداد؛ مگر میان کابل و توکیو دادوستد تجاری وجود دارد. او هم‌چنان می افزاید حجم بزرگ تجارت جاپان با افغانستان غیرمستقیم و از راه کشورهای سومی‌ست. کِنیچی ماساموتو، سفیر جاپان در افغانستان گفت: «در حال، ما سرمایه‌گذاری مستقیم جاپان در افغانستان را نمی‌بینیم، مگر تجارت داریم. ما ماشین‌آلات و پرزه‌جات ماشین‌آلات را صادر می کنیم.تجارت مستقیم محدود است؛ مگر در عین حال برخی از موترهای جاپانی و پرزه‌جات آن‌ها از طریق کشورهای سومی وارد افغانستان می‌شوند. بنابراین تجارت وجود دارد و هم‌چنین تجارت غیرمستقیم بزرگ‌تری هم جریان دارد.» هم‌زمان وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامی‌افغانستان آمار می‌دهد که حجم دادوستد تجاری افغانستان با جاپان در سال پار میلادی به ۹۷ میلیون دالر می‌رسید که از این میان دو میلیون دالر را صادرات و ۹۵ میلیون دالر را واردات تشکیل می‌دهد. وزارت صنعت و تجارت امارت‌اسلامی‌افغانستان گفت: «اقلام عمده صادراتی به کشور جاپان، عبارت از نباتات طبی، کشمش، انجیرخشک، مغزپسته، میوه، مغز بادام، زردآلوخشک می باشد؛ اقلام عمده واردات از کشور جاپان عبارت از موترسایکل، موتر تیز رفتار، تایر و تیوب، پرزه‌جات موتر و بایسکیل می‌باشد.» آگاهان اقتصادی به این باور هستند که با استفاده از فرصت‌های به‌میان‌آمده در راستای سرمایه‌گذاری در کشور، امارت‌اسلامی افغانستان باید در تلاش جلب جاپان به سمت سرمایه‌گذاری باشد. احمدفردوس بِ‌گزین، آگاه اقتصادی دراین‌باره گفت: «جاپان می‌تواند افغانستان را در زمینه انتقال تکنالوژی، بهبود معیارهای تولید و تقویت ظرفیت صنعتی کمک کند، از طرف دیگر رابطه تجارتی با جاپان یک پیام به جهان ارسال می‌کند که افغانستان به دنبال تعامل سازنده و متوازن است.» شاکر یعقوبی، یکی دیگر از آگاهان اقتصادی گفت: «با توجه به مسیرهای که قرار است کشور ما داشته باشد، ایجاد یک رابطه منظم و دقیق با کشور جاپان می‌تواند بسیار قابل اهمیت باشد در بخش زیربناها، در بخش سکتورهای انرژی، آموزش، فناوری و تکنالوژی کشور جاپان می‌تواند بسیار موثر واقع شود.» این در حالی ست که بر پایه‌ی آمارهای ارایه‌شده از سوی وزارت صنعت و تجارت، افغانستان اکنون با بیش از ۸۰ کشور جهان سالانه دادوستد تجاری انجام می‌دهد.



# د کابل-بګرام سړک
## د عملي چارو د پيل په مراسمو کې
## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وينا:



الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذين اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم،

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالی: هوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا

**د کور او ښار جوړولو وزارت محترم وزير صاحب، د امارتي ادارو محترمو مسوولينو، قدرمنو مشرانو، د رسنيو استازو، مېلمنو او ټولو حاضرينو ته!**

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

الله تعالی دې وکړي چې ټول به روغ او جوړ یاست.

ډېر د خوشالۍ ځای دی چې نن ورځ د کابل ـ بګرام مهم سړک د عملي چارو د شروع په مراسمو کې ګډون کوم. تر هر څه دمخه ټولو ګرانو هېوادوالو ته د دې مهمې پروژې د شروع کېدو له امله ډېره مبارکي وایم.

**قدرمنو حاضرينو؛**

کابل ـ بګرام سړک د کابل ښار يو له مهمو ستراتيژيکو نښلونکو لارو څخه دی؛ چې د کابل ښار شمالي برخې د پروان ولايت مرکز چاريکار او د هېواد له شمالي ولايتونو سره نښلوي. دغه سړک نه یوازې ټرانسپورټي او د تګ راتګ له اړخه ډېر اهميت لـري، بلکې د اقتصادي، تجارتي، ښـاري پراختيا او ټولنيزو فعاليتونو له اړخه هم حياتي رول لري. د ياد سړک يوه مهمه او اساسي برخه د نوي کابل ښار تر چتر لاندې سيمو کې موقعيت لري؛ چې د نوي کابل ښـار د ټرانسپورټي زيربنا اساسي برخه ګڼل کېږي.

دا سـړک ډېره پراخه او د عصر د غوښتنې مطابق مهمه زيربنا لري؛ چې د برقي بسونو، لويو ټرانزيټي موټرو او ښاري بسونو د تګ او راتګ لپـاره دوه لاينونه او د تيز رفتاره کوچنيو موټرو د تـګ او راتګ لپاره څلور لاينونه لـري. همدارنګه څلور لاينه فرعي سړکونه او د سړک دواړو غاړو ته معياري پياده رو او شنه ساحه لري.

**ګرانو هېوادوالو؛**

زه د دې مهم او اسـاسي سړک په تخنيکي اړخونو نه غږېږم؛ مګر اقتصادي اړخ ته يې لنډه اشاره کوم:

دا سړک چې د کابل ښار له ګڼ نفوسه سيمو څخه شروع او د پروان ولايت تر بګرام ولسـوالۍ پورې غځېدلی؛ مسير يې د هېواد د سړکونو د شبکې يوه مهمه برخه جوړوي او د ټرانزيټي دهليز حيثيت لري.

دغه سړک د کابل ښار د تجارتي مارکيټونو او د شمالي ولايتونو ترمنځ د شيانو د انتقال اساسي مسير دی، چې ډېرې فابريکې، ګدامونه، ورکشاپونه او تجارتي مرکزونه پکې فعال دي او ډېرو هېوادوالـو ته يې د کار زمينه برابره کړې ده؛ چې په پراختيا او معياري جوړولو سره به يـې دا ټولې ګټې څو چنده زياتې او د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې به اساسي رول ولوبوي.

**قدرمنو هېوادوالو؛**

دا تريخ حقيقت ټولو ته معلوم دی، چې په تېر کې د افغانستان ملت په دومره سـياسي احزابو، قومي، سـمتي، ژبنيو او نورو اجزاوو ويشل سوی و چې د ملي مشترکاتو د پياوړي کولو په برخه کې مو لوی اکثريت له لاسه ورکړی و؛ په مختلفو مفکورو د ملت دا وېش تر دې کچې رسيدلی چې نور د وېش قابليت او ظرفيت نه و پاتې سـوی او متأسفانه چې دا ډېره ستر ميراثي فاجعه ده.

اسلامي امارت دغو ټولو جدي ستونزو او ننګونو ته په پام هڅه کوي چې د افغانستان د غيور ملت ټول بې مفهومه تقسيمات او تفرقات له منځه يوسي، د ولسونو ترمنځ شته هېڅ تنوع ته د تعصب او تبعيض له ديده ونه کتل سي او ټول افغانان په داسې اسـلامي او واحد ملي دريځ راټول کړي؛ چې د افغانسـتان سـترې ګټې او ستراتيژيکې موخې پکې خوندي وي. چې يو بنسـټيز کار تر شپږم صنف پورې د مدرسې او مکتب د نصاب توحيد دی چې اسلامي امارت وکړ.

زه د هېواد په داخل او خارج کې په ټولو افغانانو غږ کوم چې ړوند تقليد مه کوئ، د چا تر اغېزې لاندې مه راځئ، واقعيتونه غلط مه تفسيروئ؛ افغانستان ستاسـې کور دی. هر افغان د نورو افغانانو په څېر ارام ژوند کولی سي، له خارج څخه خپل هېواد ته راتللی او پانګونه کولی سي. موږ نه د چا مخه نيولې ده او نه د اسلامي امارت ظرفيت دومره کوچنی دی چې هره فردي او جزوي مسئله جدي ونيسي.

بايد سيمې او نړۍ ته څرګنده وي چې له افغانستان سره مثبت تعامل د اوسني وخت اړتيا ده او د سيمه ييز او نړيوال ګډون د پيـاوړي کولو او د دوامداره مشـترکو پراختيايي اهدافو د هم مهاله تعقيب يو مهم او بنسټيز رکن دی. له دې حقيقت څخه سترګې پټول د مشترکو اساسي موخو تعقيب او ترلاسه کول



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديٍ اوونيزه
هفته‌نامـه آبـادی




کمزوري کوي او شته بالقوه فرصتونه په لوی لاس ضايع کوي.
ټول هېوادونه د خپل جغرافيوي موقعيت، هوايي حريم، کاري قوې، خامو موادو او صادراتو او وارداتو له اړخه يو بل ته اړ دي؛ دا اړتياوې هغه وخت په سمه توګه پوره کېدلی سي چې د نړۍ هېوادونه د رسمي اړيکو په چوکاټ کې د تعامل جرأت وکړي، چې دا کار د ټولو په ګټه دی.

هر څوک بايد د افغانســـتان له شـــته فرصتونو لکه سرتاسري امنيت، اقتصاد محوره سياســـت، د نورو هېوادونو په چارو کې عدم مداخله، د ســـياسي او اقتصادي تعامل پياوړې ارادې او نورو ورته فرصتونو څخه لازمه ګټه واخلي او هڅه ونه کړي چې رامنځته سوي فرصتونه په تهديدونو بدل سي.

په پای کـــې يو ځل بيا ولس تـــه د دې مهمې پروژې د پيل مبارکي وايم او مسوولو کسانو ته يې د توفيق دعا غواړم.

له توجه څخه مو مننه

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۲,۹۵؋ | ۶۳,۰۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۱۷؋ | ۲۱۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۳۹؋ | ۰,۴۰؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۳,۳۰؋ | ۷۳,۴۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۲؋ | ۰,۸۲؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۷۴۰؋ | ۷۴۵؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۸۴,۰۰؋ | ۸۴,۴۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۶,۷۹؋ | ۱۶,۸۰؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۱۴؋ | ۱۷,۱۵؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۱۱؋ | ۹,۱۲؋ |

